Afghanistan Watch
دیده‌بان افغانستان

international center for TRANSITIONAL JUSTICE

موضوع: انتقالی عدالت

# انتقالي عدالت څه شی دی ؟

انتقالي عدالت د بشر له حقونو څخه د سرغړونې په وړاندې له ځواب څخه عبارت دی کوم چې په ترتیب شوې او پراخه توګه ترسره کیږي. له قربانیانو سره د خواخوږۍ او د سولې د زمینو د پیاوړتیا ، روغې جوړې او ولسواکۍ لپاره له عدالت څخه عبارت دی. انتقالي عدالت د عدالت یوه ځانګړې بڼه نه ده بلکې د هغو ټولنو لپاره عدالت دی کومې چې غواړې له بشري حقونو څخه د سرغړاوي له یوه پړاو څخه عبور وکړي. ځینې وختونه ، دا انتقالي پړاوونه په سملاسي توګه پیښیږي او په ځینو نورو مواردو کې کیدای شي څو لسیزې وخت ونیسي.

## غوښتنځي او تعریفونه

انتقالي عدالت یوه داسې حل لاره ده چې د ۱۹۸۰ کلونو په وروستیو او د ۱۹۹۰ کلونو په پیل کې په لاتینې امریکا او ختیځې اروپا کې ، د عدالت د پلي کیدو لپاره رامنځ ته شوه. په هغه وخت کې د بشر د حقونو فعالینو او نورو غوښتل ترڅو هغه سازمان شوې سرغړونې را وسپړي کومې چې د پخوانیو رژیمونو لخواترسره شوې دي پرته له دې چې هغه سیاسي عبور ته چې بهیر یې راون و کوم زیان ورسیږي. څرنګه چې دې بدلونونو ؛ ولسواکۍ ته د عبور؛ په نوم شهرت وموند ، نو خلکو د سیاسي عبور دا برخه چې په تیرو کې له بشري حقونو څخه د سرغړونو را سپړل دي ؛ د انتقالي عدالت؛ په نوم یاده کړه.

انتقالي عدالت په ټولیزه توګه یو لړ حل لارو ته ویل کیږي چې دولتونه کیدای شي په تیرو کې له بشري حقونو څخه د سرغړوونو د را سپړلو لپاره چې په هغو کې قضایي او ناقضایي برخه شامله ده له دې حل لارو څخه ګټه واخلي. په انتقالي عدالت کې هغه کړنې یا سیاستونه او په دې سیاستونو پورې اړوند ارګانونه هم راځي چې دا کړنې او سیاستونه یوه له تاوتریخوالې ډک او استبدادي سیاسي پړاو څخه یوه ټولنیز ثبات ته درسېدو لپاره تصویب کړی وي. انتقالي عدالت د یوې داسې ټولنې لپاره کارنده دی کومه چې دا ورته په زړه پورې وي ترڅو ټولنیز باور بیا تر لاسه شي ، خپل مات شوی قضایي نظام بیا ورغوي او د یوه ولسواك نظام لپاره ټینګ بنسټونه رامنځ ته کړي. د انتقالي عدالت چورلیز ارزښت د عدالت مفهوم او فکر دی: انتقالي عدالت په الزامي توګه په مجرمینو باندې د عدالت تطبیق نه دی بلکې د عدالت نورې بڼې هم پکې راځي. د انتقالي عدالت او سیاسي عبور مفهوم د رژیم د بدلون یا له کړکیچ څخه د تیرېدو په څېر د دې لپاره دی ترڅو له کړکیچ وروسته ټولنو کې د ټینګښت د راوستلو او دموکراتیزاسیون بهیر پیاوړی او ملاتړ یې وشي.

هغه دولتونو چې انتقالي عدالت یې تامین کړی دی بېلابېلې او ګڼ شمېر لارې یې تجربه کړي دي چې دادي یوځای ورته کتنه لرو:

- **جرمې تعقیبونه:** له جرمي یا قضایي تعقیب څخه موخه د هغو کسانو قضایي پلټنې دي چې د بشر له حقونو څخه په سرغړونو پړه دي. تعقیب کوونکي تر ډېره په اصطلاح ؛ لوی کب؛ په پلټنو باندې ټینګار کوي: یعنې تور تر ډېره هغو کسانو ته متوجه وي چې د ترتیب شویو او ډله ایزو جرمونو مسئولیت په غاړه لري.
- **حقیقت موندونکي کمیسیونونه:** د دې حقیقت موندونکو کمیسیونونو لومړنۍ موخې له بشري حقونو څخه د مهمو سرغړنو څېړنه او راپور ورکول دی ، کوم چې په نیږدې وروستیو کې یې صورت نیولی دی. دا کمیسیونونه ترډېره رسمي دولتي تشکیلات دي چې د ترسره شویو سرغړونو او تیرو جنایتونو په تړونو باندې د ملهم لګولو په اړه سپارښتنې وړاندې کوي او د سرغړونو د زیان اړوونکو پایلو د مخنیوي لپاره لارې چارې برابروي.
- **د زیانونو د جبران پروګرامونه:** د زیانونو د جبران پروګرامونه د تل په څېر د دولت تر ملاتړ لاندې وي او د تیرو سرغړونو د مادي او رواني زیان د بیارغونې او ملهم په اړه مرسته کوي. دا پروګرامونه په عملي توګه د قربانیانو لپاره ګڼه مادي او دیني ډوله ګټې رامنځ ته کوي په دې ګټو کې کیدای شي د مالي زیان جبرانونه او رسمي بښنه غوښتل هم را ګډ شي.
- **جنسیتي عدالت:** د جنسیتي عدالت مانا داده ترڅو جنسي تیریو او د ښځو په وړاندې تاوتریخوالي ته ځواب ووایي. د بشر له حقونو څخه د سرغړونې ته دا ډول ځان رسول په دې هڅه کې دي ترڅو د جنسیت پربنسټ له بشري حقونو څخه سرغړونو ته د ځان رسولو برابرې لارې چارې وړاندې کړي او په دې باندې ډاډ من شي چې ښځې له نارینه و سره په برابره توګه له بشري حقونو څخه په سرغړونو باندې پټې ایښودلو ته لاسرسی لري.
- **د امنیتي نظام سمونونه:** د امنیتي نظام د سمونونو د تامین لپاره له هڅو څخه عبارت دي. دا پروګرام غواړي پوځ، پولیس، قضایي ارګانونه او نور اړوند دولتي بنسټونه له استبدادي ، فساد او د سرغړونې له عواملو څخه د خدمتونو او عامه خوندیتوب په عواملو باندې واړوي.
- **له بشري حقونو څخه د سرغړونو او قربانیانو یادون:** په دې یادونو کې موزیمونه او هغه یادونه راځي چې د قربانیانو عمومي یاد د تل لپاره ژوندی ساتي او د تیرو سرغړونو په اړه رواني تاریخي یاد په سوغات راوړي او په دې توګه د دې سرغړونو د بیا تکرار مخه نیسي.

که پورتني څو یاد شوی موارد یوه داسې منظومه وي چې د بشري ضد جرمونو ته ځان رسولو(انتقالي عدالت) لپاره سازماني جوړښت جوړوي، بیاهم دا یو وروستی او بشپړ لړلیك نه دی. ډېرې ټولنې چې د بشري حقونو له پراخې سرغړونې سره لاس او ګریوان دي په دې باندې توانېدلې دي ترڅو د عدالت دتامین لپاره نورې نوښتګرې لارې ترلاس لاندې ونیسي. او دا هغه دلیل دی چې ولې انتقالي عدالت تردې کچې په پیاوړې او متنوع بڼه راوړاندې شوی دی.

## یوه ټولیزه کتنه

په معمولي توګه د بشر د حقونو د پراخو جرمونو را سپړل له ډېرو ستونزو سره مخامخ کیږي. کیدای شي دا بهیر د یوه هیواد سیاسي انډول له منځه یوسي. په بل ځای کې کیدای شي یو حکومت ته د عدالت د تامین لپاره ګام پورته کول هیڅ په زړه پورې نه وي آن تردې په ځینو مواردو کې یو هیواد کیدای شي په دې ونه توانیږي ترڅو د انتقالي عدالت له بهیر څخه ملاتړ وکړي مګر داچې خپل ثبات له خطر سره مخامخ کړي.

هغه ستونزې چې په تیرو کې د ترسره شویو بشر ضد جرمونو څخه را ټوکیږي ډېرې پیچلې دي او فکر نه کیږي چې په یوه ګام اخیستوسره په نوموړو ستونزو باندې بریالیتوب تر ګوتو شي. په معمولي توګه د بشر له حقونو څخه په یوه پراخه سرغړونه کې یو شمېر خلکوته سخت او ډېر رواني زیانونه اوړي او دا قربانیان د دې سرغړونو په اړه د عدالت غوښتونکي دي. خو له بلې خوا د بشر د حقونو تړپښولاندې کوونکي هم د واك خاوندان دي او له واکه د دوی را پرځول ساده

پاتې د پاڼې شاته

کار نه دی. څکه یواځې قضایي اقدامات او محاکمه ناشونې یا لږ تر لږه نا کافي ده. که چېرته په زرګونو او سلګونو زره قربانیان او د بشري حقونو ترپښنو لاندې کوونکي شتون ولري، څرنګه کیدای شي د ټولو په وړاندې عادلانه چلند وشي؟ په ځانګړې توګه ستونزه هغه وخت ډېره را برسېره کیږي چې څېړونکې محکمه کمزورې او یا په فساد کې ښکېل وي. خو که فرض کړو چې محکمه دا توان لري چې د بشر د حقونو ترپښنولاندې کوونکي تر قضایي تعقیب لاندې ونیسي او دوی د محاکمې میز ته راکاږي بیا هم دا اړتیا جوته ده  ترڅو د زیان لیدلې ټولنې لپاره نور اقدامات او نوښتونه هم ترلاس لاندې ونیول شي.

په انتقالي عدالت باندې له دوه لسیزو تمرین وروسته، تجربې ښیي چې انتقالي عدالت به هلته زیات اغیزمن وي چې د عدالت د تطبیق د بهیر لپاره پراخ او هراړخیز ګامونه تر پام لاندې ونیول شي. تجربو ښودلې ده چې یو اقدام هیڅکله په یواځې ځان د بشپړو او هر اړخیزو اقداماتو په کچه کوم چې یو له بل سره ترکیب شوي وي، اغیزمن ثابت شي.

د بېلګې په توګه که چیرته د انتقالي عدالت د ترسره کولو لپاره حقیقت موندنې او دتیرو جنګي حقایقو  را برسیره کول او د قربانیانو سره خواخوږي ترسره نشي ، که څه هم  له بشري حقونو څخه یوشمېر سرغړوونکي سزا هم ووینې ، کیدای شي د انتقالي عدالت پر ځای ، سیاسي انتقام اخیستل رامنځ ته شي.  که چېرته حقیقت موندنه د بشري حقونو د ترپښنولاندې کوونکو له مجازاتو او اصلاحي مرکزونو پرته ترسره شي نو د یواځې د خبرو په پولو کې پاتې کیدای شي.  که چیرته له قربانیانو سره خواخوږي او د خسارو جبران او د تاوان ورکړه د بشري حقونو د ترپښنو لاندې کوونکو له تعقیب سره او حقیقت موندنې سره مله نه وي، کیدای شي ناوړه ګټه ترې پورته شي . د بېلګې په توګه کیدای شي په دې ډول مواردو کې له جنګي قربانیانو څخه د غوښتل شي ترڅو پټه خوله پاتې شي او یا رضایت څرګند کړي.  په همدې توګه که چېرته اداري اصلاحات او حکومتي بنسټونه ونه کړای شي داسې پروګرامونه ترلاس لاندې ونیسي چې د جنګي قربانیانو په حق هیلې لکه د عدالت تامین، حقیقت موندنې، د زیانونو جبران او د تاوان ورکړه ترلاسه کړي، ډېر احتمال لري چې یو بریالی کار به نه وي ترسره شوی.

له انتقالي عدالت څخه دا هیله کیږي  ترڅو وکولای شي د هغو ټولنو لپاره چې د بشرحقونو د ترپښنولاندې کولو له یوه پړاو وروسته د سولې غوښتونکې وي د ولسواکۍ او سولې د پیاوړتیا بنسټونه د ارزښتمنې لارې چارې په توګه طرح کړي. څرګنده ده چې د اندیښنې له ډنډ څخه د وتلو یوه لاره له قربانیانوڅخه سلا مشوره غوښتل او د نظر پوښتنې په بهیر کې د هغوی را ګډول دي.  د یوې شمیریزې ټولنې په توګه د جنګي قربانیانو انتخاب په غالب ګمان د عدالت د تامین په بهیر کې اغیزمن ثابتېدای شي . دا هغه څه دي چې د هغو ټولنو له څېړنو او تجربو څخه په لاس راغلي دي چې له بشري حقونو څخه دسرغړونې پراوونه يې تیر کړي دي. اړینه ده ترڅو ټول هغه عوامل چې احتمالا له بشري حقونو څخه په سرغړاوي پورې اړه لري په پام کې ونیول شي . دانتقالي عدالت په بهیرکې باید د انتقالي جنسیتي عدالت موضوع هم  د عدالت د پلي کولو او تامین په مرکز کې ځای ونیسي ترڅو پوه شو چې ښځینه او نارینه څرنګه  وسله والې شخړې او له بشري حقونو څخه سرغړاوی  په متفاوته توګه تجربه کړی دی.  جنسیتي عدالت داسې یو پروسه ده چې د جنسیت پربنسټ د تاوتریخوالو قضایي تعقیب ، د ښځو بېلابېلو ډلو او کورنیوته یې د اوښتي زیان تاوان ورکول، د ښځو په وړاندې د بشر له حقونو څخه د سرغړاوي یاد او د حکومتي ارګانونو سمونونه په ځان کې رانغاړي. دا پروسه به ښځې وهڅوي چې د عدالت لاسرسي ته کوم چې د یوه انسان په وړاندې د بل انسان په واسطه له بشري حقونو څخه دسرغړاوي په اړه خوندیتوب تضمینوي ، هڅه وکړي.

## انتقالي عدالت په نړیوالو قوانینو کې

په هغه کچه چې انتقالي عدالت پراختیا موندلې ده او بېلابېلې بڼې یې غوره کړې دي، په نړیوالو قوانینو کې یې غوره ځای خپل کړی دی. په نړیوالو قوانینو کې د انتقالي عدالت حقوقي بنسټ یوه برخه د هندوراس په وړاندې  په ۱۹۸۸ کال کې د ولاسکویس رودریګوز په اړه د بشري حقونو د بین الامریکایي محکمې تر پرېکړې پورې رسیږي.  دې محکمې داسې وپتیله چې ټول حکومتونه د بشري حقونو په وړاندې د څلورو بنسټیزو ژمنو در لودونکي دي او دا ژمنې عبارت دي له:

د بشر له حقونو څخه د سرغړاوي د مخنیوي لپاره د معقولو ګامونو پورته کول

د هغو مواردو په اړه د جدي پلټنو ترسره کول چې له بشري حقونو څخه پکې سرغړونې صورت نیولی دی

د هغو کسانو په وړاندې د مناسبو بندیزونو لګول چې د بشري حقونو د ترپښنولاندې کولو پړه په غاړه لري

له بشري حقونو څخه د سرغړاوي  قربانیانو ته د اوښتي زیان جبران کول

نوموړي آرونه د نوموړي محکمې لخوا په وروستیو تصمیمونو کې تصویب شول او بیا د اروپا د بشري حقونو د محکمې او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د کمیټې لخوا لاسلیک شول. په ۱۹۸۸ کال کې د لاحه د نړیوالې محکمې منځ ته راتلل هم د انتقالي عدالت لپاره ډېر ارزښتمن دي. څکه د دې محکمې بنسټ لیک دولتونه ژمن ګرځوي ترڅو د معافیت د فرهنګ په وړاندې مبارزه وکړي او د قربانیانو حقونه خوندي کړي.

## د انتقالي عدالت لرلید

له کومه ځایه چې انتقالي عدالت تل له ستونزو او خنډونو سره لاس او ګریوان دی، او په پرله پسې توګه یې په ستونزو باندې د بریالیتوب او لاسبرۍ لپاره نوي نوښتونو ته لاس اچولی دی. وروسته له هغې چې په چیلي او ارجنټاین کې دیکتاتوریو پای وموند، انتقالي عدالت د بشریت په وړاندې د سرغړونو سره د مبارزې لپاره بوسنیا او هرزګوینا، لیبریا او د کنګو ولسواک جمهوریت ته ، هلته چې سوله  په خطر کې ده و لیږدیدو.  همدا اوس ستونزه  قومي پاکونې او بې ځایه کیدل ، ملکي کول او د جګړې داړخونو پخلا کول ، د ټولنې دبېلابېلو پوړونو ترمنځ روغه جوړه او د سولې ټینګښت دی کوم چې د انتقالي عدالت په بهیر کې د خبرواترو اصلي محور ګڼل کیږي.

د بشري حقونو دډګر هغه شمېر فعالان چې د انتقالي عدالت په برخه کې کړه وړه ترسره کوي په همدې حال کې سیمه ایز، منطقه وي یا دودیز عدالت هم له سترګو نه وباسي. د بېلګې په توګه کیدای شي د سیرالیون او یوګاندا په څېر هیوادونو کې خلک غواړي  چې د ښکېلو اړخونو ترمنځ د روغې جوړې د پیاوړتیالپاره له مذهبي او دودیزو لاروچارو او اصولو کار واخیستل شي.  خو په دې صورت کې هڅه کیږي ترڅو د انتقالي عدالت له بنسټیزو اصولو څخه څارنه وشي. یانې دا چې کیدای شي له مذهبي اصولو او دودیزو لاروچارو څخه په ځانګړو ځایونو کې له انتقالي عدالت څخه ګټه پورته شي ، خو دا شونتیا باید له سره شتون ونلري چې دا لارې چارې د انتقالي عدالت له اصولو سره متضادې واقع شي او عدالت ته د رسېدو په لاره کې خنډ واقع شي.

وروستۍ خبره داده چې په تیرو کې  پراخو او بشري ضد جرمونو ته د ځان رسولو او د انتقالي عدالت د پلي کولو لپاره کوم واحد فورمول شتون نلري. د انتقالي عدالت ټولې لارې چارې په نړیواله کچه د بشري حقونو د خوندیتوب لپاره په یوه بنسټیز باور باندې ولاړې دي . خو په پای کې هره ټولنه باید د انتقالي عدالت په لوري خپله لاره وټاکي.

---

**د انتقالي عدالت نړیوال مرکز (ICTJ):** د انتقالي عدالت نړیوال مرکز داسې یو ارګان دی چې د انتقالی عدالت د خوندیتوب لپاره کار کوي، دا ارګان له هغو هیوادونو سره  چې غواړي د تل پاتې سولې او په تیرو کې پر بشري ضد جرمونو باندې دعدالت د پلي کولو په اړه فعالیت وکړي، مرسته کوي.  د دې مرکز د فعالیت سیمه هغه ټولنې دي چې له ځپونکو حکومتونو او یا وسله والو شخړو څخه راوتلې وي او یا په هغو هیوادونو کې ولسواکي نوې را ټوکېدلې وي او تر اوسه لا  له پخوا پاتو ستونزو لکه له عدالت څخه پراخ سرغړاوی او د بشري حقونو سیستماتیک تر پښنولاندې کولو سره لاس او ګریوان وي د دې سازمان په اړه د نورو ډېرو مالوماتو لپاره په  www.ictj.org  پته باندې مراجعه وکړئ.

---

**د افغانستان د څار ټولنه:** د افغانستان د څار ټولنه یو افغاني مدني  بنسټ دی چې لرلید یې یوې ولسواکې، سوله ایزې، متواضع  او له عدالت څخه برخمنې ټولنې ته رسېدل دي چې ټول وګړي یې وکولای شي له مساوي فرصتونو څخه برخمن وي. د دې بنسټ  ماموریت د هغو کړو وړو سرته رسول دي چې پایله یې په افغانستان کې د سولې ، عدالت او یو د بل د منلو د فرهنګ پیاوړتیا او  بشري حقونو ته درناوی  وي.  ولسواکی، عدالت، بشري حقونو، په هیواد کې انډولیزې ټولنیزې او اقتصادي پرمختیا ، بې پربوالي، خپلواکی او تخصص ته ټینګه ژمنتیا د دې سازمان د کړو وړو  د لارښود په توګه له چورلیزو ارزښتونو څخه ګڼل کیږي. د افغانستان د څار ټولنې په اړه د نورو زیاتو معلوماتو لپاره لاندې ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ: www.watchafghanistan.org